مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۱/۰۳

# دوه مخو ته

لطفاً! جامې وباسئ!

د فريب، دوکې، چل، غولوني او دوه ګوني انځور جامې! هغه چې اوس مو نورو ته محترم ساتې؛ خو که يو ځل مو ياد تصوير بايلود؛ بيا ورته په نه زغمونکي اذيت بدلېږئ او د تل له پاره مو انساني کرامت، ارزښت او قيمت ختموئ !

قربان مو لغړ واوسئ!

که سيګرټ وهئ، بد کار دئ؛ مګر چې له خدايه يې نه پټوئ له انسانه يې هم مه پټوئ! که له يو چا سره مو زړه ناسته نه غواړي او په شنه زور مو تندی ورين ورته نيولی وي؛ اجازه ده چې پاڅئ او خدای پاماني ترې واخلئ! مهمه نه ده چې خپل درواغجن اکر جاري وساتئ!

هيله کوم له نرګسيت را ووځئ!

هغه نرګسيت چې تاسي ته د نورو ستايني در ببنلی، د درواغجن تخت په ګدئ يې کېنولي يئ او د وخت فرعونيان يې درنه جوړ کړي دي! تاسي هيڅوک نه يئ، ان د ستر ځښتن په وړاندې د يو (خال/ټکي) ارزښت هم نه لرئ. نو بيا ولې...؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ